**پر غمونو او دردونو سربېره تاسو ته زېری لرم!**

**(ژباړه)**

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله معاذ بن جبل او ابو موسی اشعري رضی الله عنهما یمن ته د دعوت لپاره لېږل، داسې لارښوونې یې ورته وکړې: «**وبَشِّرَا ولَا تُنَفِّرَا**»؛ *زېري ورکوونکي اوسئ*، نه بېزارونکي.

دا هغه غوره لاره ده، چې الله سبحانه وتعالی یې خپل رسول ته دستور ورکړی: ﴿**فبشِّرْ عِبَادِ**﴾؛ *زما بنده ګانو ته زېری ورکړه.* ﴿**وَبَشِّرِ الصَّابِرِين**﴾؛ *صبر کوونکو ته زېری ورکړه.* ﴿**وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ**﴾؛ *نېکانو ته زېری ورکړه!...* دغه راز په ډېرو نورو ایاتونو کې هم الله سبحانه وتعالی همداسې امر کړی دی. نو موږ ته د مسلمانانو او دعوت کوونکو په توګه لازمه ده، چې د دې لارې پیروي وکړو، ځان او نورو ته زېري ورکوونکي شو.

موږ مسلمانان سره له دې چې اوسمهال له بې شمېره ازموینو، دسیسو، زیانونو او ګوابښونو سره مخ یو، د زېري غږ پورته کولو ته ډېره اړتیا لرو. په ځانګړې توګه په رجب میاشت کې، هغه میاشت چې د خلافت دولت د له منځه تلو دردونکې خاطره پکې رامنځته شوې وه. دغه راز ۹۹ کاله کېږي، چې دا ورځ تکرارېږي.

نو اوس تاسو ته ستاسو د عزت، بریا او حاکمیت زېری درکوم...! تاسو له یوې اوږدې تیاره شپې وروسته د روڼ سهار په زېري نازوم...! همدارنګه تاسو ته د سرپرستۍ او رهبرۍ زېری درکوم...!

ډېری به د دغو زېریو په اړه حیران شي او پوښتنه به وکړي: کوم دي دا ښه خبرونه او زېري، په داسې حال کې چې موږ په ذلت کې یو؟ کوم دي دا ښه زېري، په داسې حال کې چې اسلامي خاورې تر ښکېلاک لاندې دي او د جوړېدو پر ځای، د ورانېدو پر لور رواني دي؟! کوم دي دا ښه خبرونه، په داسې حال کې چې فساد د پراخېدو په حال کې دی، عام شوی او د الله سبحانه وتعالی احکام هره ورځ او هر ساعت تر پښو لاندې کېږي؟! ایا خبرونه نه ګورې؟ د یهودو له خوا د مسجدالاقصی توهین نه وینې؟! ایا هغه څه چې د حجاز په مکه او مدینه کې ترسره شول، و دې نه لیدل؟! ایا هغه کسان چې له یهودو سره اړیکې عادي کوي او له الله سبحانه وتعالی څخه هم نه شرمېږي، ته یې نه وینې؟! هم پخوا پر مسلمانانو ظلم کېده او هم اوس کېږي، ځګره ورسره کېږي او تر ځار لاندې دي. د الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم دښمنان په سوریه، یمن، کشمیر، میانمار، هند او یا هم په عراق کې مسلمانان وژني او سوځوي یې. دا هغه څه دي، چې یوازې دوی یې د مسلمانانو پر وړاندې تر سره کوي. هر څوک چې **لا اله الا الله** وایي، ترهګر او مجرم ګڼل کېږي. خو د خدای لپاره، کوم دي ښه خبرونه او زېري؟!

زه دا ټول وينم او تر ټولو ښه پرې پوهېږم او له دې ټولو سره ژوند کوم؛ خو هر کله چې د الله سبحانه وتعالى دا کلام لولم، تاسو ته زېرى درکوم:

**﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ﴾**

[نور: ۵۵]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالى له هغو کسانو سره، چې ايمان يې راوړی او ښه عملونه کوي، ژمنه کړې چې د ځمکې پر مخ به يې د تېر په څېر خليفه ګان کړي. الله سبحانه وتعالى به د هغوی لپاره هغه دين په قوي بنسټونو ودروي چې ورته خوښ کړی يې دی. دوی ته به اوسنی د وېرې حالت په امن بدل کړي. هغوی دې زما بنده ګي کوي او کوم څه دې نه راسره شريکوي. هغه څوک چې له دې وروسته کفر غوره کوي، فاسقان دي.*

ځنګه چې پر الله تعالى باور لرم، پر ژمنو يې هم باوري يم او دا باور هم لرم، چې خلافت به تاسيس کېږي. زېرى درکوم او هغه کسان هم وينم، چې د الله سبحانه وتعالى د همدې ژمنې د پوره کېدو لپاره شپې او ورځې شمېري؛ خلک نېکۍ ته رابولي او له بدۍ يې منع کوي. دغه راز د حق په لاره کې له هېڅ شي نه وېرېږي. د نبوت پر تګلاره د راشده ثاني خلافت د تاسيس او د اسلام د راګرځولو لپاره کار کوي. د دغو دعوت لېږدونکو په سر کې امير او جليل القدر عالم شيخ عطاء بن خليل ابو رشته دی. کله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه حديث لولم، نو زېرى درکوم:

**«إِنَّ اللَّهَ زَوَى لِي الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا، وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا»**

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالى ځمکه تر دې کچې راټوله کړه، چې ختيځ او لوېديځ مې يې وليدل او له شک پرته چې زما پاچاهي به د ځمکې تر ختيځ او لوديځ پورې ورسېږي.*

زه پر دې پوهېږم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل نفسه کومه خبره نه کوي او پر دې هم باوري يم، چې اسلامي امت به د نړۍ پر سر پاچاهي کوي. ځکه زېرى درکوم چې د خلافت د تاسيس لپاره غږ پورته شوی او په خلافت سره د الله سبحانه وتعالى د شريعت پلي کېدل غواړي.

له غمونو او دردونو سره سره بیا هم زړې درکوم. سره له دې چې د حکامو او د هغوی د همکارانو له خوا د دعوت د لېږدونکو نیول کېدل او وهل ډبول وینم، خو بیا هم زړې درکوم! دا هرڅه د رسنیو درواغ دي. پر حق هېڅکله باطل نه دي بريالي شوي. باطل له حقه وېرېږي او د حق پر وړاندې له ماتې سره مخ کېږي!

کله چې وینم د پانگوالۍ نظام د له منځه تلو په حال کې دی، خپله لاره یې ورکه کړې، لکه څنگه چې سوسياليستي نظام ورسره مخ شوی و؛ نو زړې درکوم. له اقتصادي بحران وروسته اوس په کورونايي بحران کې ژوند کوو؛ هغه بحران چې د پانگوالۍ نظام یې بېوسه کړ. د انساني اړتیاوو تر ټولو کوچنۍ یې هم نه شي پوره کولی. هغه ځېره یې ټولو ته ښکاره کړه، چې پر بشر یې ظلم کاوه او حرص یې درلود.

دغه زړې هم درکوم، چې غرب د سیاسي اسلام له مفکورې او حاکمیت ته یې له رسېدو وېره لري. دا حالت یې احساسوم! دغه راز له اصلي موخې څخه د دې مفکورې د منحرفولو لپاره په پلانونو، دسیسو او څېړنو میلیاردونه پانگه لگوي. مخکې مې هم وویل، زه په دې پوهېږم چې اوسمهال په ناوړه حالت کې یو. ځکه جگړې انسان، ډېرو او ونو ته زیان رسولی دی. ټول له سخت ژوند سره مخ دي او فتنې انسانان داسې له منځه وړي، لکه اور چې وچ لرگي سوځوي. همدارنگه په دې هم پوهېږم، چې حکومتونه کمزوري شوي دي.

ایا اسلامي امت پخوا داسې بحرانونه او سختې ورځې نه دي تېرې کړې، لکه اوسمهال چې ژوند پکې کوي؟ پر بغداد د تاتاريانو برید او په بې رحمه او وحشیانه توگه د هغوی وژل او ایا په ۴۰ ورځو کې یې یو میلیون بې گناه مسلمانان ونه ژول؛ ایا دا ملا ماتوونکی ناورین نه دی؟ له دې مخکې د صلیبیانو له خوا د بیت المقدس نیول کېدل او په مسجدالاقصی کې ۷۱ کسان ووژل شول! قسم په الله سبحانه وتعالی چې دا ډېرې وحشتناکې صحنې وې، خو له دې ټولو سره سره، بالاخره څوک بريالي شول؟ ځواب یې د حطین او عین جالوت په جگړو کې دی.

ایا الله سبحانه وتعالی نه دي فرمايلي:

**﴿فَإِنَّ مَعَ ٱلعُسرِ يُسرًا﴾ او ﴿إِنَّ مَعَ ٱلعُسرِ يُسرًا﴾**

***ژباړه:*** *له سختۍ سره ارامتیا ده. ضرور له سختۍ سره ارامي ده!*

نو هېڅکله یوه سختي پر دوو ارامتیاوو نه برلاسې کېږي. هر کله چې غم شدید، سختي او تیاري زیاتې شي، په همداسې وخت کې لمر راپورته کېږي. هغه میندې چې پرله پسې یې د شنډولو هڅې کېږي، خو بیا هم د صلاح الدین او قطز په شان بچیان زېږوي او لا هم نه دي شنډې شوې. نو باید د تیارې د اوږدېدو له کبله ناهیلي نه شو او نه هم د هغو چیغو د ځواب نه مندلو ته ناهیلي شو، چې د مرستې لپاره یې وهي...

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وینا، چې فرمایلي یې دي، تاسو ته زېری درکوم:

**«بَشِّرْ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِالسَّنَاءِ وَالرِّفْعَةِ وَالدِّينِ وَالنَّصْرِ وَالتَّمْكِينِ فِي الْأَرْضِ»**

*__ژباړه:__ دغه امت ته د ځمکې پر مخ د دین د مقام لوړوالی، بریا او حاکمیت زېری ورکړه!*

خو دلته یو ټکی شته چې باید تمرکز پرې وکړو: دا زېری یوازې د هغو کسانو لپاره دی، چې د خپل امت لپاره نېک او مخلص انسان دی. هغه څوک چې د امت لپاره سروري او سرلوړي غواړي، نه سر ټيټي! دا زېری د هغو کسانو لپاره دی، چې د الله سبحانه وتعالی لپاره مطیع بنده ګان دي او د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره یې قدمونه اخیستي دي. دا زېری یوازې د هغو کسانو لپاره دی، چې پوهېږي د ځمکې پر مخ د الله سبحانه وتعالی له حاکمیت پرته ژوند ناشونی دی. پر دې باور لري چې واقعي ژوند د اخرت دی.

له شک پرته چې دا زېری د هغه کس لپاره په حقیقت بدلېږي، چې د مصطفی سیرت راژوندی کوي او د هغه پر لاره روانېږي. دغه راز د هغه شریعت پیروي کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راوړی دی... په داسې حال کې به له اسلامي امت سره د کايناتو سردار مرسته وکړي او دا کار الله سبحانه وتعالی ته سخت نه دی. ځکه الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۖ وَلِلۡكَٰفِرِينَ أَمۡثَٰلُهَا ۝ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَأَنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ لَا مَوۡلَىٰ لَهُمۡ﴾**

[محمد:۷-۱۱]

*__ژباړه:__ اې مومنانو! که تاسو د الله تعالی له دین سره مرسته وکړئ، نو هغه به له تاسو سره مرسته وکړي او قدمونه به مو ټینګ کړي. هغه کسان پاتې شول، چې کافران شوي، د هغوی لپاره هلاکت دی او الله تعالی د هغوی عملونه ضایع کړي دي. ځکه هغوی د الله تعالی قران بد وګاڼه، نو له همدې امله الله تعالی د هغوی اعمال بې ګټې کړل. ایا دوی پر ځمکه نه ګرځېدل او د هغو کسانو عاقبت یې نه دی لیدل، چې پخوا الله سبحانه وتعالی تباه کړل؟ د دوی لپاره هم همداسې تباهي نېږه ده. د مومنانو ملاتړی او مرسته کوونکی الله سبحانه وتعالی دی، خو د کافرانو ملاتړی او مرستندوی نشته.*

**لیکوال: مسلمه الشامي (ام صهیب)**

**ژباړن: حبيب الله**